**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۶ نېټه: ۹/ربیع الثاني/۱۴۴۵ هـ ق | مصادف: ۲/لړم/۱۴۰۲ هـ ل**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**و بعد:** د اداري فساد د درنو جرمونو پر وړاندې د مبارزې محکمې اړونده عدلي او قضائي مرکز، ریاستونو او مدیریتونو د انحلال په تړاو د امیرالمؤمنین حفظه الله عالیقدر مقام د ۱۴۴۴/۴/۲۱ هـ ق نېټې، چې ۱۴۰۱/۸/۲۵ هـ ش نېټې سره برابره ده، د (۱۲۱۵) ګڼه حکم د دویمې مادې په لومړي جزء کې هدایت شوی و چې پښتو متن یې په لاندې ډول دی: ((۱- د اداري فساد د درنو جرمونو پر وړاندې د مبارزې محکمه دې د سترې محکمې له تشکیل څخه منحل کړل شي، د یادې محکمې واکونه او مسئولیتونه دې نظامي محکمې ته وسپارل شي.)) دا چې مونږ د محکمو لپاره د درنو جرمونو د ټاکلو او وضاحت په برخه کې کوم هدایت نه درلود، په همدې اساس اړتیا راولاړه شوه چې: له درنو جرمونو څخه مراد کوم جرمونه دي تر څو ټولې دوسیې یې د اسلامي امارت د عالیقدر محترم مقام له حکم سره سم نظامي محکمې ته واستول شي؟؛ یاده موضوع د سترې محکمې د محترمې عالي شورى د ۱۴۴۵/۱/۲۰ هـ ق نېټې په مجلس کې مطرح شوه او په اړه یې د (۲) ګڼه تصویب د پنځلسمې پرېکړې په ترڅ کې هدایت صادر شو چې پښتو متن یې په لاندې ډول دی: ((د سترې محکمې د دارالأنشاء عمومي ریاست دې د اداري فساد د درنونو جرمونو پر وړاندې د مبارزې محکمې موضوعات تشخیص او په راتلونکې مجلس کې دې وړاندې کړي.)) د سترې محکمې د دارالأنشاء عمومي ریاست د یاد هدایت په رڼا کې د اداري فساد د درنو جرمونو پر وړاندې د مبارزې محکمې موضوعاتو په هکله څېړنه وکړه او د څېړنې پایله یې د محترمې عالي شورا د ۳۰/محرم/۱۴۴۵ هـ ق نېټې، چې ۲۵/زمرى/۱۴۰۲ هـ ل نېټې سره برابره ده، مجلس کې وړاندې کړه چې په تړاو یې عالي شورى هدایت وکړ چې پښتو متن یې په لاندې ډول دی:

((د اداري فساد د درنو جرمونو پر وړاندې د مبارزې محکمې موضوعات چې د سترې محکمې د دارالأنشاء عمومي ریاست له خوا مشخص شوي دي، د حل او فصل د واک په هکله یې دې د اسلامي امارت له عالي محترم مقام څخه هدایت وغوښتل شي.))

پورتنۍ موضوع او د سترې محکمې د دارالأنشاء ریاست له لوري د درنو جرمو پر وړاندې د مبارزې محکمې مشخص شوي موضوعات د سترې محکمې د مقام دفتر ریاست د ۱۴۴۵/۲/۱۴ هـ ق نېټې د (۴۵ پر ۲۲) ګڼه لیک په ذریعه د افغانستان اسلامي امارت عالي محترم مقام ته وړاندې کړای شول چې په اړه یې د اسلامي امارت عالي محترم مقام د ۱۴۴۵/۳/۳۰ هـ ق نېټې، چې ۱۴۰۲/۷/۲۳ هـ ل نېټې سره برابره ده، د (۱۷۵۲) حکم پر بنسټ هدایت وفرمایه چې پښتو متن یې په لاندې ډول دی:

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

((د اداري فساد درنو جرمونو پر وړاندې د مبارزې محکمې موضوعات چې د سترې محکمې د دارالأنشاء عمومي ریاست له خوا مشخص شوي او د موضوعاتو تعداد یې ۲۰ دی، ټول دې د نظامي محکمې مربوط کړل شي.))

بناءً، د درنو جرمونو د ۲۰ موضوعاتو لسټ او د دولتي لوړ پوړو چارواکو لسټ چې د سترې محکمې د دارالأنشاء عمومي ریاست له لوري ترتیب او د اسلامي امارت د عالي محترم مقام د ۱۴۴۵/۳/۳۰ هـ ق نېټې، چې ۱۴۰۲/۷/۲۳ هـ ل نېټې سره برابره ده، د (۱۷۵۲) ګڼه حکم په ذریعه تایید شوی دی، د دې متحدالمآل په ذریعه په (۳) پاڼو کې د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شو تر څو په رڼا کې یې اصولي اجرأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**نېټه: ۹/ربیع الثاني/۱۴۴۵ هـق | مصادف: ۲/لړم/۱۴۰۲ هـ ل**

**د درنو جرمونو د موضوعاتو په هکله څېړنه:**

جرم کله د شخص په نسبت دروند ګڼل کېږي او کله د لاس ته راغلي عاید له نظره دروند ګڼل کېږي. په همدې اساس، د ۲۰ ډوله موضوعاتو لسټ چې د درنو جرمونو په توګه پېژندل شوي دي، له دې پاڼې سره مل دی. خو، که د وزارتونو وزیران، د خپلواکو او یا عمومي ریاستونو رئیسان، چې لسټ یې له دې پاڼې سره مل دی، او نور لوړي پوړي چارواکي د یادو جرمونو مرتکب شي، د دوی موضوع د اداري فساد د درنو جرمونو د محکمې اړوند کېږي.

همدارنګه، له محترم قاضي القضاة او د سترې محکمې رئیس او ورسره مل پلاوي سره د افغانستان اسلامي امارت عالي مقام عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د ۱۴۴۳/۷/۲۶ هـ ق نېټې د مجلس د دویمې پرېکړې له مخې، که د حکومت د درې ګونو ارګانونو (د دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو لوی ریاست) له منسوبینو څخه یو تن مدعي علیه واقع شي، موضوع یې د نظامي محکمې اړونده ده او نور حکومتي چارواکي، چې رتبه یې په مل لسټ کې په ګوته شوې، که له لاندې جرمونو څخه د یوه جرم مرتکب شي، موضوع یې په نظامي محکمې تړاو لري:

| د اداري فساد درنو جرمونو پر وړاندې د مبارزې محکمې اړونده موضوعات | | | |
|---|---|---|---|
| ګڼه | موضوع | ګڼه | موضوع |
| ۱ | بډې (رشوت) | ۱۱ | په ناقانونه ډول د شتمنۍ زیاتېدل |
| ۲ | اختلاس | ۱۲ | د اسنادو جعل (تزویر) |
| ۳ | د اسنادو غلا | ۱۳ | د دندې انتحال (د هغه چارو د اجراء یا امتناع د صلاحیت څرګندونه کول چې شخص پرې مؤظف نه وي) |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴ | د رسمي پاڼو او اسنادو غیر مجاز تلف کول | ۱۴ | په اړونده چارو کې د یوه کار د اجراء یا امتناع په منظور د هر ډول ډالۍ منل |
| ۵ | د قانوني واک له پولو اوښتل | ۱۵ | د سپارل شوې دندې په اجراء کې ځنډ |
| ٦ | له وظیفوي موقف څخه ناوړه گټه اخیستل | ١٦ | د اړونده اداري د سلوکي قواعدو نه رعایتول |
| ۷ | د عدالت د تطبیق پروسې خنډ جوړېدل یا اخلالول | ۱۷ | د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ستراتېژۍ کې د لیکلو نورو کړنو اجراء یا امتناع |
| ۸ | په شخصي چارو کې له دولتي امکاناتو او رسمي وختونو څخه گټه اخیستل | ۱۸ | په ناقانونه ډول د پیسو مینځل |
| ۹ | له قانوني عذر پرته له دندې امتناع او استنکاف | ۱۹ | په ناقانونه ډول د معدنونو کیندل |
| ۱۰ | د حقیقت پټول | ۲۰ | د تاریخي او فرهنگي آثارو ویجاړول، غلا کول او پلورل |

**وضاحت:** ۱- لوړپوړي دولتي چارواکي (چې لسټ یې دې پاڼې سره مل دی) که د پورتنیو جرمونو له جملې څخه د یوه جرم مرتکب شي، موضوع یې د اداري فساد د درنو جرمونو محکمې اړونده گڼل کېږي.

**۲- په جدول کې ۲مه گڼه جرم: اختلاس؛ ۱۱مه گڼه جرم: په ناقانونه ډول د شتمنۍ زیاتېدل؛ او ۱۴مه گڼه جرم: په اړونده چارو کې د یوه کار د اجراء یا امتناع په منظور د هر ډول ډالۍ منل:** چې د یاد جرم له ارتکاب څخه لاسته راغلیو پیسو اندازه له ۱۰ میلیونه افغانیو (یا هم په خارجي اسعارو کې یې معادل) څخه زیاته وي، (که مرتکب یې لوړ پوړی چارواکی او یا هم ټیټ رتبه مامور وي)، د دوی موضوع د اداري فساد د درنو جرمونو محکمې اړونده گڼل کېږي.

**۳- د بډو اخیستلو جرم:** که له دې جرم څخه د لاسته راغلیو پیسو اندازه له پنځه میلیونه افغانیو (یا هم په خارجي اسعارو کې یې معادل) څخه زیاته وي، که د یاد جرم مرتکب لوړ پوړی چارواکی او یا هم ټیټ رتبه مامور وي، د دوی موضوع د اداري فساد د درنو جرمونو د محکمې اړونده گڼل کېږي.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه يې د هيڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائيد شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحريراتو آمريت**

**د متحدالمآل څانګه**

**نېټه: ۹/ربیع الثاني/۱۴۴۵ هـق | مصادف: ۲/لړم/۱۴۰۲ هـ ل**

**د لوړپوړو دولتي چارواکو لسټ**

| ګڼه | اشخاص |
|---|---|
| ۱ | وزيران |
| ۲ | د وزارتونو معينان |
| ۳ | د سترې محکمې رئيس |
| ۴ | د سترې محکمې د عالي شورى غړي |
| ۵ | د سترې محکمې د مقام د دفتر رياست رئيس |
| ٦ | لوی څارنوال (د فرمانونو او حکمونو د تعقيب او نظارت لوی رئيس) |
| ۷ | د محلي ارګانونو د ادارې عمومي رئيس |
| ۸ | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمسيون رئيس |
| ۹ | د کابل ښاروال |
| ۱۰ | د ملي راډيو تلويزيون عمومي رئيس |
| ۱۱ | د افغانستان د علومو د اکاډمۍ عمومي رئيس |
| ۱۲ | د احصائيې د مرکزي ادارې عمومي رئيس |
| ۱۳ | د چاپيريال ساتنې ملي ادارې عمومي رئيس |

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زموږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

| | |
|---|---|
| ۱۴ | د بدني روزنې او سپورټ عمومي رئیس |
| ۱۵ | د جیوډیزي او کارتوګرافي عمومي رئیس |
| ۱٦ | د پېښو پر وړاندې د چمتووالي ملي ادارې عمومي رئیس |
| ۱۷ | د نورم او ستندرد ملي ادارې عمومي رئیس |
| ۱۸ | د ملکي هوانوردۍ وزارت وزیر |
| ۱۹ | د کوچیانو د چارو د ادارې عمومي رئیس |
| ۲۰ | د قضائیه قوې د ادارې عمومي آمر |
| ۲۱ | د افغانستان د اراضي ادارې رئیس |
| ۲۲ | د ولایتونو والیان |
| ۲۳ | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسیون غړي |
| ۲۴ | د عمومي ریاستونو مرستیالان |
| ۲۵ | د ولایتونو ښاروالان |
| ۲٦ | جنرالان یا هغه کسان چې د جنرالۍ په بست کې دنده ترسره کوي |